# د کوویډ 19 واکسین ترلاسه کول

Vaccinate WA
CovidVaccineWA.org

د وبا پر وړاندې مبارزه ستونزمنه شوې ده، مګر موږ اوس واکسین لرو چې خپل ځان له کوویډ 19 څخه خوندي کړو.

## واکسین ستاسو له پاره په وړیا ډول چمتو کیږي.

ستاسو د واکسین لګښت به د فدرال دولت ورکړي. له تاسو څخه باید لګښت وا نخیستل شي او نه باید بل درکړل شي. که تاسو د خپل چمتو کوونکي دفتر ته یواځې د دې له پاره ورځئ چې واکسین ترلاسه کړئ نو هغوی باید له تاسو څخه لګښت وانخلي.

## پوښتنه وکړئ چې تاسو څو دوزونو ته اړتیا لرئ.

دې ته په پام سره چې تاسو کوم واکسین ترلاسه کوئ، کیدای شي له 1 څخه تر 3 دوزونو ته اړتیا وي. د دې په اړه چې تاسو یا ماشوم مو کیدای شي څو دوزونو ته اړتیا ولري له خپل ډاکټر سره مشوره وکړئ. کیدای شي تاسو او ماشوم مو د لومړنۍ لړۍ له بشپړولو څخه له 2 تر 6 میاشتو وروسته تقویه کوونکي دوز ته اړتیا ولرئ.

## واکسینونه خوندي او اغیزناک دي.

واکسینونه پر کوویډ 19 ناروغۍ د اخته کیدو په مخنیوي کې خورا اغیزناک دي. ټول واکسینونه U.S. Food and Drug Administration (FDA، سازمان غذا و داروی آمریکا) له لوري یا په بشپړه توګه تایید یا بیړنۍ کاروني لپاره جواز ترلاسه کړی – دا په دې معنی ده چې FDA د خوندیتوب هیڅ کومه جدي اندیښنه په کې نه ده موندل شوې.

## هر څوک چې عمر یې 6 کاله او یا تر هغې لوړ وي کولای شي واکسین ترلاسه کړي.

د COVID-19واکسین ټولو هغو خلکو ته چې عمرونه یې 6 کاله او یا تر هغې لوړ وي د لاسرسي وړ دی. د مهالویش او د لیدنې د وخت د ټاکلو له پاره VaccineLocator.doh.wa.gov ته مراجعه وکړئ. همدارنګه تاسو کولای شئ له 1-800-525-0127 سره اړیکه ونیسئ، بیا د # تنۍ کیکاږئ. کله چې ستاسو اړیکې ته ځواب ورکړل شو، د ژباړې د خدمتونو له پاره خپله ژبه ووایئ.

## ښایي تاسو جانبي عوارض احساس کړئ.

د واکسین کولو وروسته به تاسو د نورو عادي واکسینونو په څېر په خپل مټ یو ټپ ولرئ، تبه، سردردي او ستړیا به درته پیدا شي. دا د دې نښې دي چې واکسین کار کوي.

## خوندي پاتې شئ.

کله مو چې واکسین ترلاسه کړ، ماسک واغوندئ، له نورو څخه شپږ فوټه (دوه متره) واټن وساتئ او په سترو غونډو کې ګډون مه کوئ.

# د کوویډ 19 واکسین ترلاسه کول

## جانبي عوارض څه دي؟

له واکسین اخیستو څخه وروسته د یوې یا درې ورځو له پاره په معمول ډول جانبي عوارض موجود وي. عام جانبي عوارض یې ستړیا، د عضلاتو درد، د واکسین په ځای کې د درد احساس، تبه، سر درد، د مفصلونو درد، لړزه، زړه بدوالی او کانګې دي. که تاسو دا نښې لرئ، لرې مه ځئ او له خپل ډاکټر یا کلینیک سره اړیکه ونیسئ.

د واکسین ترلاسه کولو وروسته د 15 یا 30 دقیقو له پاره د واکسین په ځای کې پاتې شئ، څکه که چېرته تاسو د واکسین پر وړاندې حساسیت یا نور جانبي عوارض وښيئ نو ستاسو د واکسین چمتو کوونکی به له تاسو سره مرسته وکړي. تاسو د انتظار پر مهال کولای شئ په v-safe کې نوملیکنه وکړئ تر څو د جانبي عوارضو په اړه خبر ورکړئ: vsafe.cdc.gov.

همدارنګه تاسو او یا ستاسو د واکسین چمتو کوونکی کولای شي Vaccine Adverse Event Reporting System (VAERS، د واکسین پر ضد پېښې د راپور ورکولو سیستم): vaers.hhs.gov/reportevent.html ته د جانبي عوارضو په اړه راپور ورکړي.

**که له کلینیک څخه تر وتلو وروسته تاسو ته جانبي عوارض پیدا شوي وي نو له 911 شمېرې سره اړیکه ونیسئ.** د حساسیتي غبرګون په نښو کې دغه نښې شاملې دي: په سختۍ سره نفس اخیستل، د مخ او ستوني پړسوب، د زړه چټک ضربان، د ټول وجود نا آرامي، د سر څرخېدل او کمزوري.

## کله چې زه واکسین ترلاسه کړم څه به کېږي؟

**که چېرې تاسو او یا ماشوم مو د واکسین دوه یا درې دوزونه ترلاسه کړي وي، د خپل راتلونکی دوز)دوزونو (لپاره د لیدنې یو وخت تنظیم کړئ.** د خپل بل دوز د ترلاسه کولو لپاره تاسو باید له 8-3اونیو وروسته د بل دوز)دوزونو (لپاره مراجعه وکړئ. د واکسین د مهالویش په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره doh.wa.gov/covidbooster ته مراجعه وکړئ.

کله چې تاسو په بشپړ ډول واکسین ترلاسه کړئ نو دوه اونۍ وروسته به تاسو د خوندیتوب لوړې کچې ته ورسېږئ. ستاسو د خوندیتوب د دوام لپاره د دې سپارښت هم کېږي چې له دوو څخه تر شپږو میاشتو په موده کې د تقویې دوز ترلاسه کړئ.

## کوم واکسینونه د لاسرسي وړ دي؟

دلته څلور ډوله واکسینونه شتون لري - Pfizer, Moderna, Novavax او Johnson & Johnson.

ټول واکسینونه U.S. Food and Drug Administration (FDA، سازمان غذا و داروی آمریکا) له لوري یا په بشپړه توګه تایید یا بېړنی کاروني لپاره جواز ترلاسه کړی – دا په دې معنی ده چې FDA د خوندیتوب هېڅ کومه جدي اندېښنه په کې نه ده موندل شوې.

## څوک باید د کوویډ 19 واکسین ترلاسه کړي؟

تاسو په واکسین کولو کې اختیار لرئ. که تاسو تصمیم ونیو چې واکسین وکړئ، نو خپل د واکسین چمتو کوونکي ته ووایئ:

- که د سختو حساسیتي غبرګونونو مخینه لرئ
- تبه لرئ
- د وینې بهېدنې بې نظمي لرئ او یا د وینې نري کوونکي خورئ
- که تاسو داسې درمل خورئ چې هغه ستاسو د مدافعې پر سیستم اغېز لري
- چې مېندوارې یاست، پلان لرئ چې مېندوارې شئ او یا ماشوم ته شیدې ورکوئ
- د کوویډ 19 کوم بل واکسین مو ترلاسه کړی وي

که تاسو د کوویډ 19 واکسین مخکیني دوز او د واکسین نورو عناصرو ته جدي حساسیت ښودلی وي، نو تاسو باید واکسین ونکړئ.

واکسینونه له غوړو، قندو او مالګې سره د فعالي مادې لرونکي دي، تر څو له واکسینونو څخه ساتنه وکړي او په بدن کې په ښه ډول د هغوی له اغېز سره مرسته وکړي.

تاسو باید لږ تر لږه 6 میاشتې او یا له هغې څخه زیات عمر ولرئ تر څو Pfizer-BioNTech او یا Moderna واکسینونه، vaccines 12 کاله او یا له هغې څخه زیات عمر ولرئ چې Novavax او 18 کاله یا له هغې څخه زیات عمر ولرئ چې Johnson & Johnson واکسین ترلاسه کړي.

Washington State Department of Health

**DOH 348-782 November 2022 Pashto**

د دې سند په بله بڼه کې د غوښتنې کولو لپاره، 1-800-525-0127 ته زنګ ووهئ. کاڼه او هغه پېرودونکي چې د اورېدو ستونزه لري، لطفاً 711 (Washington Relay) سره اړیکه ونیسي او یا civil.rights@doh.wa.gov ته برېښنالیک ور واستوي.